مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نصیر ستوری ۲۰۲۶/۱۱/۱۷

د پښتنو د يووالي ورځ

جرمني: د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند د پښتنو د يووالي ورځ ولمانځله

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند د ۲۰۲۶ کال د نوامبر پر ۱۴مه د جرمني په هورت ښار کي د پښتنو د يووالي ورځ د يوې سترې تاريخي غونډې په ترڅ کي ولمانځله.

ګوند له ۱۹۹۳ کال راهيسې هر کال د نوامبر دولسمه د «پښتنو د يووالي د ورځې» په توګه لمانځي.

په غونډه کي د جرمني او نورو اروپايي هېوادونو مېشتو لرو او برو پښتنو او افغانانو، پوهانو، ادیبانو، شاعرانو، ليکوالانو او سياسي او ټولنيزو شخصيتونو ګډون کړی و.

غونډه د مازيګر په شپږو بجو د ښاغلي سيد هاشم پاچا له خوا د قرآن کريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت پيل شوه. ورپسې ملي سرود او د غني خان قومي ترانه «ای زما وطنه، د لالونو خزانې زما» واورول شول.

د ګوند د مشرانو جرګې غړي، ډاکټر شيرولي شير، چې د دريځ (ستيج) چارې يې پر مخ وړلې، له هرکلي ويلو وروسته وويل چې د لرو او برو پښتنو يووالی يوازې يو تاريخي ياد، احساساتي شعار يا فرهنګي غوښتنه نه ده، بلکې يوه ملي، سياسي او تاريخي اړتيا ده.

د ګوند مشر قانونپوه علي خان محسود، په خپله وينا کې پښتنو ته پر ورپېښو ستونزو رڼا واچوله او د افغانستان له واکمنو يې د نجونو د ښوونځيو د پرانيستلو غوښتنه وکړه او پر اوسنيو واکمنو يې غږ وکړ چې خپلې پالیسۍ سمې کړي، تر څو افغانستان بيا د جنګ په ډګر بدل نه شي. د ګوند له اړخه يې د پښتون ژغورنې غورځنګ د ملاتړ ژمنه تازه کړه.

ورپسې د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور پښتين انلاين وينا وکړه. منظور پښتين وويل چې د دې غونډې عنوان، «د پښتنو د يووالي ورځ»، د استعمار پر ضد ستر شعار دی. نومورې پر پښتنو د روانو ظلمونو او بې‌عدالتيو يادونه وکړه او د پښتنو د يووالي پر اړتيا يې زور واچاوه.

د ګوند لومړي مرستيال، محمدشيرين ګرديوال، وويل چې په يوويشتمه پېړۍ کې نړۍ د سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او سيمه‌ييزو بدلونونو پر لور روانه ده او د پښتنو په سيمه کې بدلونونه راروان دي.

د تاريخي افغانستان او پښتونخوا پښتانه په دې نړۍ کې خپل ځای لري. په اوسني وخت کې پکاره، چې تاريخي افغانستان او پښتونخوا پښتانه د خپلو ارزښتونو، خپل هويت، خپل ولس او خپلې جغرافيې پر وړاندې خپل رسالت درک کړي او د ساتنې لپاره يې يو غږ او يوه خوله شو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تاریخپوه استاد شهسوار سنګروال د ډیورنډ لاین پر تاریخي شالید وینا واوروله. نوموړي وویل چې د انګرېزانو له وتلو سره سم د بنو قامي جرګې او بیا په ببلابېلو وختونو کې نورو ملي او قامي جرګو هم د ډیورنډ توافقلیک نه دی منلی.

نوموړي وویل چې یو شمېر بهرنیو سیاستوالو هم د پښتنو پر سینه راښکل شوې کرښه غیرعادلانه او د استعماري قوتونو د سیاستونو پایله بللې ده.

د ګوند جنرل سکرټري نصیر ستوري د ګوند له جوړېدو راهیسې تر اوسه د ګوند فعالیتونو او هلو ځلو ته لنډه ځغلنده کتنه وړاندې کړه.

د فرانکفورت د څانګې مشر، محمداقبال لالا، پر هېوادوالو غږ وکړ چې د لرو او برو پښتنو د نړدېوالي او یووالي لپاره لاس په کار شي او د پښتنو د اوسني وضعیت پر وړاندې خپل مسوولیت ادا کړي.

ښاغلي محمدابراهیم سپېڅلي دا ډول غونډو پر جوړېدو ټینګار وکړ او د پښتو ژبې پر ارزښتونو یې رڼا واچوله او د ښاغلي عبدالباري جهاني صیب یو شعر یې ولوست.

ښاغلي عبدالحنان زاهد د پښتو ژبې د پرمختګ د لارو چارو په اړه خپل نظر ګډونوالو ته وړاندې کړ.

دغه راز د پښتنو د یووالي د ورځې په مناسبت یو شمېر کولتوري او ادبي ټولنو، سیاسي ګوندونو او خوځښتونو پیغامونه رالېږلي وو. د دغو پیغامونو له ډلې د میشنیش د افغانانو د کلتوري ټولنې مشر ډګروال احمدشیر ساپي، د خپلې ټولنې پیغام واوراوه.

د ګوند د مشرانو جرګې غړي، ښاغلي اسدالله شیر، د ګوند د مشرانو د هلو ځلو لنډه یادونه وکړه او د داسې غونډو جوړول یې د وخت اړتیا وبلله او له ګډونوالو یې خوښنه وکړه، چې خپل کارونه یې پرېښي او پدې تاریخي غونډه کې یې ګډون وکړ.

د غونډې بله برخه مشاعري ته ځانګړې شوې وه، چې چاري یې انجنیر مطیعالله روفي پر مخ وړلې.

په مشاعره کې هر یو ښاغلیو محمداجان یار، بازمحمد عابد، نسیم ستوري، صاحبزاده ځواک وطنیار، شکرالله پاڅون او ډاکټر خسرو سنګروال خپل شعرونه واورول.

د غونډې جشني برخه د خوږ غږي سندرغاړي همایون انګار په ټنګ ټکور، ملي ترانو او اتڼونو ښکلې شوې وه.

غونډه د شپې په دولسو بجو پای ته ورسېده.

مننه او خوښنه:

د ښاغلي غلام رسول همت او ښاغلي اسدالله شیر څخه ډېره مننه کوو، چې د تل په څېر یې د ایونټ پلاسټ تالار په وړیا توګه زموږ په واک کې راکړی دی.

دغه راز له انجنیر طارق امین او خوشال اپریدي او نورو تخنیکي همکارانو څخه د زړه له کومې مننه کوو.
د ټولو کور ودان ودان

په درنښت
16.11.2026

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ